# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۴۳۱ ګڼه / شنبه ۱۱ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / اول ثور ۱۴۰۳ هـ.ش / ۲۰ اپریل ۲۰۲٤ میلادي

## افغانستان د کاغذ له پلوه پر ځان بسیا شو

مسوولین وايي چې اوسمهال هېواد د کارټن او سپینو پاڼو د تولید له مخې پر ځان بسیا شوی دی. د کندهار د صنعت او سوداګرۍ ریاست وايي چې یوازې په دغه ولایت کې د کارټن او اې فور ورقو څلور کارخونې فعاله دي.د امین کریم په نوم د یوې کارخونې مسوول وايي چې په دې کارخونه کې یې تر سلو زیاتو کسانو ته د کار زمینه برابره کړې ده. نوموړی وايي چې دا کارخونه یې د ۲.۵ میلیونو افغانیو په ارزښت جوړه کړې او په ورځ کې ۱۳۰ زره کارټنونه تولیدولی شي. د دغې کارخونې کارټنونه د پلازمېنې په ګډون ګڼو ولایتونو ته لېږدول کیږي. ۳مخ



## کابل - بیجېنګ د بشري مرستو او اقتصادي بیارغونې دربیمه دوه اړخیزه ناسته وکړه



کابل - بیجېنګ د بشري مرستو او اقتصادي بیارغونې دربیمه دوه اړخیزه ناسته وکړه

د افغانستان اسلامي امارت او د چین ولسي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارتونو د اړوندو سیاسي څانګو په مشرۍ د بشري مرستو او اقتصادي بیارغونې اړوند میکانیزمنو دربیمه ناسته وشوه.

په دغه ناسته کې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت سرېره د صنعت او سوداګرۍ، کانونو او پټرولیم، د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو او د طبیعي پېښو پر وړاندې د امارت وزارت استازو برخه درلوده. ۲مخ

## امارت اسلامی با قربانیان رویدادهای طبیعی در پاکستان ابراز همدردی کرد

وزارت امور خارجه با قربانیان و آسیب‌دیدگان سیلاب‌های اخیر در پاکستان ابراز همدردی کرده است. عبدالقهار بلخی سخنگوی وزارت امور خارجه با نشر بیانیه‌ای در ایکس، این موضوع را بیان کرده است.

در بیانیه با دولت و ملت پاکستان در پیوند به باران‌ها و سیلاب اخیر در این کشور، تسلیت گفته شده است.وزارت امور خارجه کشور به خانواده‌های قربانیان شدیداً ابراز همدردی کرده است.

گفتنی‌است که در پی ص۳



## امضای ۱۰ قرارداد همکاری میان وزارت صنعت و تجارت با موسسات ملی و بین المللی

وزارت صنعت و تجارت تفاهم‌نامه‌های همکاری به ارزش یک میلیون و ۱۳۰ هزار دالر امریکایی با ۱۰ موسسه ملی و بین‌المللی امضا کرد.این وزارت با نشر خبرنامه‌ای از امضای این تفاهم‌نامه‌ها میان نورالدین عزیزی، سرپرست وزارت صنعت و تجارت و مسوولان موسسات ملی و بین‌المللی خبر داده است.موسسات امضا کننده قراردادها در راستای تقویت تشبثات متوسط، کوچک و کوچک‌تر، در ۹ ولایت افغانستان کار خواهند کرد.متشبثین واجد شرایط در ولایت‌های کابل، بغلان، هرات، غور، لوگر، ننگرهار، بلخ، بدخشان و جوزجان، از این برنامه مستفید خواهند شد.حمایت‌هاي مالي وتخنيكي، ارایه خدمات و ارتقای ظرفیت خانواده‌های کارآفرین، اشتغال‌زایی، افزایش مهارت‌هاي صنايع‌دستي و حمایت از تجارت‌های کوچك‌تر، کوچك و متوسط از بخش‌های تطبیقی این برنامه گفته‌شده‌است.پس از حاکمیت امارت اسلامی پروژه‌های زیادی در بخش توانمندسازی تشبثات کوچک عملی شده است.در نزدیک به سال گذشته ۷۲ پروژه به ارزش بیش از ۵۳ میلیون دالر امریکایی از سوی وزارت صنعت و تجارت در کشور در این بخش تطبیق شده است.

## پانګوال: د پانګونې په پار، افغانستان د نړۍ غوره هېواد دی

یو شمېر کورنیو پانګوالو او د هغوی چینايي شریکانو د کانونو او پټرولیم له وزیر شیخ شهاب الدین دلاور سره په کتنه کې ویلي، د افغانستان اوسنیو حالاتو ته په کتو د پانګونې لپاره ښه فرصتونه برابر شوي دي. دغو پانګوالو په دې کتنه کې د لویو او کوچنیو کانونو د قرار دادونو او کان کیندنې د جوازونو په اړه خبرې کړي او د کانونو په ځانګړې ۳مخ



## اورښتونو خلکو ته زیانونه اړولي

د هلمند ځایی مسوولین وايي چې ددې ولایت په کجکي او بغني ولسوالیو کې درنو بارانونو خلکو ته ګڼ مالي او ځاني زیانونه اړولي دي. د هلمند د اطلاعاتو او کلتور رئیس وايي چې بغني او کجکي ولسوالۍ د نورو په پرتله زیاتې زیانمنې شوي دي. د ښاغلي راشد په خبره، د هلمند ډېریو ولسوالیو کې له پرون راهیسې شړکنده باران اوري.د هلمند په کجکي ولسوالۍ کې د درنو اورښتونو له امله د ښځو او ماشومانو په ګډون د یوې کورنۍ ۷ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.د هلمند د اطلاعاتو او کلتور رئیس حافظ عبدالباري راشد وایي: تېره شپه په شمالي ولسوالیو کې د زیات اورښت له امله سېلابونه راوتلي چې له امله یې په کجکي ولسوالۍ کې د یوې کورنۍ ۷ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی.



## هلمند کې د شنو خونو حاصلات زیات شوي



د هلمند ځايي مسوولین وايي چې روان کال په دغه ولایت کې د شنو خونو حاصلات زیات شوي دي.د هلمند د اطلاعاتو او کلتور ریاست په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې څه موده مخکې د هلمند ولایت کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست له لوري د دې ولایت په مرکز لښکرګاه او یو شمېر ولسوالیو کې بزګروته په ازمایښتي ډول ۶ بابه شنې خونې په واک کې ورکړل شوې چې ښه حاصلات یې ورکړي دي. د هلمند د کرنې او اوبو لګولو ریاست وايي چې دغو شنو خونو غوره حاصلات درلودل او په بازار کې یې هم ښه بازار موندلی دی. دغه ریاست له کروندګرو سره د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي.

### سرمقاله

## راستنېدونکو کډوالو ته هرکلی وایو

دا چې اوس د څښتن تعالی په پیرزوینه افغانان د خپلواکۍ، ملي او مرکزي حاکمیت خاوندان دي، د پردیسیو کورنیو راستنول او پالنه له مهمو دندو ګڼل کیږي؛ ځکه بهرنیو هېوادو کې میلیونونو افغانانو پرېشاني او لالهاندي خامخا هم د موجوده نظام لپاره یوه لویه ستونزه ده، هم د نورو لپاره پر موږ د فشار یوه ذریعه او هم په نړۍ کې زموږ لپاره یو ستر پېغور. په تېره لوېدیځو هېوادو او پاکستان کې خو د افغانانو شتون بې له شکه زموږ لپاره پر یوه مهمه لانجه بدل شوی دی. دمثال په ډول د تېر ژمي په سر کې مو ولیدل چې د پاکستان د حکومت جبروفشار په وجه خورا سختو شپو ورځو کې لکونه کډوال په زښت بدحالت کې هېواد ته راستانه شول. خو ځرنګه چې له نېکه مرغه حکومت او عام ولس دواړو سره مله وه نو په تش لاس او کمو وسایلو یې د راستنېدونکو مناسب هرکلی او تر خپله وسه ښه پالنه وکړه. په دې لړ کې اوس چې د پاکستاني واکمنو د څرګندونو له مخې یوځل بیا له افغان کډوالو غوښتل شوي څو د خپل هېواد لور ته چمتووالی ونیسي، یقینا غوره فرصت دی- تر ټولو غوره او مناسب فرصت همدا د پسرلي موسم دی چې که راستنېدونکي کډوال استفاده ترې وکړي، بې له شکه چې تر راتلونکي ژمي پورې به یې د خپل کور او معیشتیت څه ناڅه چمتووالی نیولی وي. بل لورته اوسمهال ښايي افغان حکومت هم په تابیا کې وي او د پخوا په نسبت دا ځل د هغوی لا ښه پالنه وکړی شي. باید وویل شي چې له بهرنیو هېوادو خپل وطن ته د پردیسو کډاولو راستنېدنه هم خپله د دوی لپاره ګټوره ده او هم د ټول هېواد او ملت ګټې پکې لیدل کیږي؛ ځکه دوی به د پردیو له منته خلاص شي، خپل سر، مال او ناموس به یې خوندي وي او په ډاډمنه توګه به خپل کار او روزګار ترلاسه کوي او بل لورته به د پردیو معرضینو استخباراتي لاسونه لنډ او جاسوسي فعالیتونه محدود شي چې خامخا د هېواد امنیتي وضعیت ورسره ښه کیږي. دغه راز په راستنېدونکو کډوالو کې یو ښایسته شمېر مسلکي اشخاص او د بېلابېلو فنونو تجربه کار او ماهر وګړي هم شته چې که بهرمېشتي پانګوال او شتمن کسان ورسره ملګري شي نو ښکاره ده چې د هېواد پرمختګ او ځان بسیاینه کې ښه اغېز لرلی شي. لنډه دا چې وطن ته د افغان مهاجرو راستنېدنه کې د ټول ملت خیر دی او له همدې وجې ټول افغان ولس په ډېره تلوسه هغوی ته هرکلی وایي.

## غزني کې یو شمېر نظامي توکي د امنیتي ځواکونو لاسونو ته ورغلي



د غزني په اندړو، ده یک او جاغورۍ ولسوالیو کې یو شمېر نظامي توکي او وسلې د امنیتي ځواکونو لاسونو ته ورغلي دي. د غزني د امنیه قومندانۍ رسنیز دفتر ویلي چې د غزني اندړو ولسوالۍ د صاحب خان په کلي کې امنیتي ځواکونو یو ناچاوده مرمۍ موندلې ده. ویل کیږي چې دغه کور تش و او اوسمهال پکې چا استوګنه نه کوله.د ده یک ولسوالۍ په الوخیلو کلي کې د تېري ادارې د یو کارکوونکي په کور کې د د هشکې یومیل او یو ګوار وسلې تر لاسه شوې.

### سخنگوی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان:

## برای ۱.۷ میلیون مهاجر اخراج شده ازکشورهای همسایه رسیدگی شده است

**شریعت:** افغانستان از جمله کشور هایی است که بنابر جنگ ها، نا امنی ها، عدم ثبات دایمی و بیکاری های پیهم؛ بیشترین ارقام مهاجرین را در کشور های همسایه و سایر ممالک دارد.

یکی از مشکلاتی که افغانستان از سال گذشته به اینطرف با آن مواجه است، چالش اخراج اجباری بی پیشینه مهاجرین افغان در سرمای سرد زمستان از سوی کشور های همسایه است، با وجود خواست های مکرر امارت اسلامی و واکنش برخی از نهاد های جهانی مبنی بر تجدید نظر این تصمیم؛ اما متاسفانه پاکستان و ایران به اخراج اجباری مهاجرین ادامه دادند.

هرچند مسوولین امارت اسلامی با امکانات دست داشته و در تبانی با موسسات بین المللی در خصوص رسیده گی برای مهاجرین وارد عمل شدند و تا حدود مشکلات را در این بخش مهار کردند، اما هنوز هم مهاجرین برگشت شده مشکلاتی را تجربه‌می.کنند.

عبدالجبار از جمله مهاجرینی است که به گونه اجباری از پاکستان اخراج شده و در خانه یی که ۴۵۰۰ افغانی کرایه دارد، زندگی می نماید وی گفت:» تقریبا ۱۸ سال در پاکستان مهاجر بودیم، معلم بودم ص۳

### اغېزناکه خبره؛ څوک تر کماله رسوي!

۲مخ

### اوسنی اسلامي نړۍ ته د ابوریحان البیروني پیغامونه

۲مخ

# اغېزناکه خبره؛ څوک تر کماله رسوي!

حسان مجاهد

امام ابوحنيفه رح یو ماشـوم ولید، چې په ختو کې یې لوبې کولې، نومړي ورته وویل: ماشومه پام کوه چې ونه غورځې! ماشـوم ورته وویل (( ته ډېر پام کوه چې ونه غورځې! ځکه د عالم په غورځېدو(خطاء) سره ټول امت خطا کېږي! د ماشوم همدغه یوې خبرې په امام صاحب دومره لوی اغېز وکړ، چې له هغه وروسته یې تر هغه وخته چا ته فتوا نه ورکوله، تر څو چې به یې مسئله له خپلو شاګردانو سره پوره یوه میاشت مناقشه او درس کړې نه وه. [مقدمة حاشيه ابن عابدين ۱_٦٧]
امام أحمد رح وایي د ستونزې پر مهال ماته د دوو تنو خبرو ډېره ګټه ورسوله؛ لومړی د هغه چا خبره چې د شرابو د څښلو له امله بندي شوی و او ماته یې په زندان کې وویل: ای احمده!صبر وکړه! ته د شریعت لپاره وهل کېږې او زه د شرابو له امله وهل کېږم، خو بیا هم صبر کوم!
دویمه خبـره دا چې زه کله زندان ته ورل کېدم، په لاره باندې یو کوچي را باندې غږ وکړ چې ای احمـده! صبر وکړه، له یوې خوا وهل کېږې او له بلې خوا جنت ته ور داخلېږې! امام احمد رح وایي: ماته چې به د سـزا راکولو پر مهال هغه خبرې را یادې شوې؛ هېڅ درد مې نه احساساوه. [لاتحزن کتاب]
کله چې موږ د یو حدیث لپاره سرچینه(صحيح البخاري) ووینو، نو سل په سلو کې مو د حدیث په صحت او قوت باور پیدا شي، صحیح البخاري ته له قرآنکریم را وروسته (اصح الكتب) لقب ورکړل شوی ، تاسو پوهېږئ چې امام بخاري رح د یاد کتاب لیکلو ته کومې خبرې وهڅاوه؟
د مشـهور محدث اسـحاق بن راهویه رح د حدیثو په درس کې امام بخاري رح هم ناست و، اسحاق بن راهويه رح دا خبره یاده کړه((که په تاسو کې یو چا داسې کتاب لیکلای وای، چې د رسول الله صحیح احادیث په کې را ټول شوي وي؟!)) دې خبرې په امام بخاري رح اغېز وکړ او د صحیح البخاري لیکلو ته یې وهڅاوه [هدى الساري ٩] د جرح او تعدیل لوی امام، په هر فن کې د معلوماتو خزانه؛ امام ذهبي رح د علم حدیث زدکړې ته هغې یوې خبرې وهڅول، چې نومړی داسې وایي: کله چې امام البِرزالي زما خط ولید او راته یې وویل (( خط دې څومره د محدثینو خط ته ورته دی!)) له همغه خبرې په ما کې د حدیثو د زدکړې روحیه او جذبه را وټوکېده. هغه و چې نومړی د حدیثو له سترو امامانو او حافظانو څخه وګڼل شو. پایله دا چې هېڅ کله کومه د خیر خبره کمه مه ګڼه او له چا څخه یې مه سپموه؛ ځکه هغه خبره چې ستا په نظر کمه او بې قدره ښکاري؛ شاید اوریدونکي تر کماله ورسـوي، مړه احساسات یې را ژوندي شي او د خدمت او فعالیت روحیه یې قوي شي. ډېر ځلې د ښوونکي لخوا زدکوونکو ته د ډېرو کتابونو په ښوونه دومره پند نه شي حاصلېدای، لکه چې یوازې په یوه خبره ورته حاصل شي.

## کابل - بیجېنګ د بشري ...

په دغه ناسته کې د چین له لوري د سوداګرۍ، طبیعي سرچینو، د چین نړیوالې پراختیایي ادارې او نړیوالې همکارۍ ادارو استازو برخه اخیستې وه. په دې ناسته کې د بشري مرستو د میکانیزم په برخه کې په تېرو دوو نیمو کلونو کې د طبیعي پېښـو، د اجباري راستنوشویو کډوالو د ځای پر ځای کولو او د روغتیا په برخه کې د چین پر مرسـتو بیاکتنه وشوه.افغان پلاوي د چین د مرسـتو د لا اغېزمنېدو په موخه خپل وړاندیزونه او سلامشـورې چینايي اړوندو لوریو سره شریکې کړې. چینايي لوري ژمنه وکړه چې افغانستان سره د چین بشري مرسـتې د افغان لوري د اړتیاوو او لومړیتوبونو په پام کې نیولو سـره تنظیمېږي. چینایي لوري همداراز ژمنه وکړه چې افغانستان سـره د اجباري راستنوشوو کډوالو د مېشتېدو په برخه کې د چین د سـل میلیونه یوانو مرسـتو کې به د افغان لـوري وړاندیزونه په پام کې ونیسـي. همداراز د چین سره صلیب ټولنې ژمنه وکړه چې په چین کې د افغان ماشومانو د زړه ناروغیو د درملنې د بیاپیل زمینه به هم برابره کړي.
د افغانسـتان د اقتصـادي بیارغونې میکانیزم په چوکاټ کـې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سـوداګرۍ پر زیاتوالي په ځانګړې توګه چین ته د لا زیاتو افغان توکو د صادرولو د زمینې برابرولـو، ظرفیت لوړونې او په افغانسـتان کې د کانونو او معاصرې سـوداګرۍ په برخه کې د چین د پانګونې د فرصتونو په اړه هر اړخیزې خبرې وشـوې. دواړو لوریو چین ته د افغانسـتان د جلغوزو پر صادراتو سـربېره د انارو د صادراتو د زمینې برابرولو هرکلی وکړ. دغه راز دواړو هېوادونو په افغانسـتان کې د نفتو د اسـتخراج کچې لوړولو او د لوګر مس عینـک کان د اسـتخراج د پیلولو په برخه کې د وروسـتیو پرمختګونو اړوند خبرې اترې وکړې.
چینایي لوري دغه شـان افغان زده کوونکو ته د بورسـیو د ورکړې د لړۍ پر چټکتیا ټینګار وکړ. په دغه ناسـته کې همداشـان د واخان کوریډور پر پرانیسـتې، د چارو پر چټکتیا او اهمیت بحثونه وشول.

## سیاحین سفیران ...

این ریاست با نشر خبرنامه‌ای از سفر این گروه از گردشگران روسیه به پنجشیر، خبر داده است. بربنیاد خبرنامه، گردشگران یادشده شامل یک مرد و شش زن هستند و قرار است در سفرشان به پنجشیر از جاذبه‌های توریستی، تاریخی و باستانی این ولایت، دیدن کنند. مولانا نصرالله ملک‌زاده، رئیس اطلاعات و فرهنگ ولایت پنجشـیر در دیدار با گردشگران روسی، سیاحین را سـفیران صلح گفته اسـت. آقای ملک‌زاده افزوده که امارت اسـلامی به هدف حمایت از گردشگران خارجی در کشور راه‌کار منظم دارد و گردشگران مکلف به رعایت آن هستند.
رییس اطلاعات و فرهنگ پنجشیر همچنان گفته که در ماه نخست فصل بهار، ورود گردشگران داخلی و خارجی با پنجشـیر، افزایش یافته است. گفتنی اسـت که اخیراً و با افزایش سـفر گردشگران خارجی به افغانستان، وزارت اطلاعات و فرهنگ از پلان‌ها و برنامه‌های موثر برای حمایت از گردشگران، خبر داده است.

## لیلام ۱۶ میلیون دالر ...

اشتراک بانک‌ها و شرکت‌های صرافی و خدمات پولی واجد شرایط در این داوطلبی شده و گفته اسـت که برنده‌گان لیلام مکلفیت دارند تا حسابات شان را الی ختم روز لیلام، تصفیه کنند. بر اساس این خبرنامه؛ در داوطلبی های لیلام اسعار تسویه قسمی معاملات مجاز نیست، برنده گان داوطلبی مکلف‌اند تا در مدت معینه، پول ذمت خویش را یکبار بطور نقد تحویل د افغانستان بانک کنند.

## افتتاح کارزار مجادله ...

مولوی صدر اعظم عثمانی، معین وزارت زراعت، یافتن راه‌های حل مشکلات موجود و نیازمندی‌های دهاقین و مالداران ولایت کندز را یک امر مهم در جهت توسعه و انکشاف سکتور زراعت و مالداری کشـور دانسته از مسئولان سازمان خوراک و زراعت ملل متحد در افغانستان خواست که با کمک تخنیکی و بودجوی به این مشکلات پایان ببخشند. مولوی امان الله حسن، رئیس زراعت ولایت کندز نیز پیرامون خسارات ساحاتی که از اثر هجوم ملخ بوجود آمده معلومات ارایه کرده و از مسوول سازمان خوراک و زراعت در افغانستان خواست، تا درقسمت مجادله و کنترول ملخ‌های صحرایی کمک تخنیکی و بودجوی نمایند.

# اوسنۍ اسلامي نړۍ ته د ابوریحان البیروني پیغامونه

ګل رحمن رحماني / دریېمه برخه

### البیروني او انتقادي تفکر

دا چاره د یوې علمي مسئلې په توګه د شلمې پېړۍ وروستیو کې مطرح شوه، انتقادي تفکر که څه هم د بشر د پیدایښت ملګری دی، خو د تفکر د طرز او تعقل د یوې پروسـې په توګه همدې پېړۍ کې پام وړ اوښـتی دی. د لرغوني یونان فلسـفه کې هم تیـوري دا ده چې انتقادي تفکر په هر وخت کې موجود و، هر فیلسوف د بل سیال لیدلوری ننګولی دی، خو دا چاره د سقراط او اپلاتون سره اوج ته ورسېده. په اوولسمه پېړۍ کې ډیکارټ او فرانسیس بیېکن د انتقادي تفکر مخکښان بلل کېږي، ډیکارټ خو د نوې فلسفي پلار بلل شوی چې د ریاضي له اصولو یې ګټه اخیستې ده. خو په حقیقت کې دا البیروني و چې د انتقادي تفکر طرحه یې مروجه کړه، له ځان سره ښتینولې، د تحمیلي فشار پر وړاندې مقاومت، پر شـک غلبه، وضاحت، دقت، ارتباط، انسجام او تناسب، منطقي صحت، جامعیت او رضایت د هغه د انتقادي تفکر ځانګړنې وې.
البیروني د اسلام په تاریخ کې له عقل پالنې څخه تجربه پالنې، له قیاس څخه استقراء او له ذهن څخه عین ته د مېتودولوژیک تحول سـر لاری دی، هغه هم داسـې مهال چې د علمي له کاروان څخه د اسلامي ټولنو وروسته پاتې والی، چې پر مشاهده او تجربه ولاړ و، د انحاط له مهم توکو ګڼل کېږي. د هغه په څېر د تجربه پالو د دود ژوندي کول کولی شـي، چې له یوې خوا د اسلامي هېر شوي معارف د یوې برخې ژوندي کولو او له بلې خوا تجربي علم ته د اسلامي ټولنو د بیا راستنېدو لپاره یوه غوره زمینه مساعده‌شي.

### ریاضیات او ساینسي پرمختګونه

ګڼ نننۍ عصري پرمختګونه د ریاضي پر مټ تر سره شوي، په ریاضي کې لومړۍ څېړنې د البیروني په څېر اسلامي علماوو کړې، چـې محمد بن موسـی خوارزمي یې ښـه مثال دی. ابوریحان البیروني هغه مسلمان عالم دی چې د علومو په ګڼو څانګو کې د تبحر تر کچې رسېدلی او په بېلابېلو علمي حوزو کې یې ګټور اثار په میراث پرېښي دي. د ده تر ټولو ستره ځانګړنه دا ده چې د خپل عصر علوم یې طبقه بندي کړل او انساني علومو ته په ځانګړې درناوي قایل و.
په دې برخـه کې یې ګڼ اثار هم لیکلي دي، د ده ځانګړنه په دې کې وه چې د انساني او ټولنیزو مسائلو په اړه مطالعه کې یې د ریاضیاتو له روښه ګټه اخیستې ده. دی په ټولنیزه حوزه کې تر ډېره د فرهنګ، تمدن، خپل اړیکن نظامونه، دینونه، ژبو او نورو موضوعات وړاندې کـړي دي. البیروني د څېړنې په روش او د
لیکوالۍ په اصولو کې ډېر دقیق و، هغه هره پوه د هغو د محتوا له مخې په یوه مناسـبه اډانه کې د حالت له مناسب روش سره مطالعه کړې ده، په طبیعي علومو کې یې د څېړنې زیاته برخه پر ریاضي تکیه کوي. ده علوم د هغو د محتوا له مخې په دوو برخو وېشلي دي، هغه علم چې د تجربې له لارې یې تر لاسه کړی او هغه چې بله دنیا یا میتا فزیک پورې اړوندېږي، هرې یوې ته یې جلا روش ټاکلی دی، مثلا په ټولنیزو علومو کې یې د پرتلنې روش را اخیستی، د مسلمانو، هندوانو او یهودي پوهانو نظرونه یې پرتله کـړي دي، خو عام نظر یې دا دی چې اهل علم باید بې پرې وي. د دې روش نوی والی دا دی چې له ریاضي یې د انساني او ټولنیزو مسایلو په مطالعه کې ګټه اخیستې او د تاریخي پېښو په څېړنه کې یې د هغو د لاملونو او اسبابو پلټنه کړې، دا پلټنه پر واقعیت، برهان او ریاضي باندې ولاړې دي.

### اسلامي فرهنګ او البیروني:

البیروني د اسلامي فرهنګ او تمدن یو غوره استازی عالمي دی، هغـه ژبه د فرهنګ اصلي محور بولي او عربي ژبه چې زموږ د دین ژبه ده، د فرهنګ له ټولو غوره سرچینه ګڼلې ده، خو په سیمه ییزه کچه د ژبو او فرهنګ له ارزښت څخه هم انکار نه کوي. دی په دې نظریه انکار کړی، چې مسـلمان یوازې د هغـه دنیا لپاره پیدا شـوی دی، دی وایي چې دا دنیا هم باید اباده او ښکلې شي، د بشر خدمت وشي او پخوانیو اسلامي حکماوو د غـوره تمدن او فرهنګ د رامنځته کولو له لارې دا چاره ثابته کړې ده.
اوسنۍ اسـلامي نړۍ او مشران یې پردي پال دي، په ټولنو او سازمانونو کې د شاملېدو یا نړیوال کېدو او مشروعیت په بهانه یې خپل تېر فرهنـګ او تمدن هېر کړی دی، نننی فرهنګ او تمدن ته د لوېدیځ د لاسته راوړنو په سترګه ګوري، چې دا یوه لویه تېروتنه ده. ویل کېږي چې د سـلطان محمود غزني پر مهال په غزني کې چې د اسلامي تمدن پلازمېنه وه، سلګونه مدرسـې او د عصري علومو ښـوونځي فعال وو، دوی به د فراغت پر مهال هغه چپنې اغوستې او خولۍ اغوستې چې نن یې موږ له عصري زده کړو د فراغت پر مهال یې په سر کوو.
کله چې په غزني کې د سلطان محمود غزنوي واکمني وه؛ نو غزنی د نړۍ له پرمختللو ښارونو څخه و او د علومو پر یو لوی مرکز بدل شوی و. په دې وخت کې «البیروني» هم غزني کې ژوند غوره کړ. د سلطان په دربار کې د ځانګړې درناوي څښتن و. هغه آن هند ته په جنګي سفرونو کې هم ګډون کاوه؛ په دې توګه د هند له خلکو او کلتور سـره ډېر آشنا شو، چې بیا یې د
«ماللهند» په نوم یو مهم کتاب هم تالیف کړ.
البیروني په فرهنګ پېژندنه کې هم خپل نظریات لري او په دې باور دي چې فرهنګ د یوې ټولنې ذهني او معنوي پانګه ده، نه د سازمانونو بنه او جوړښت، لکه څنګه چې موږ په فرهنګ پېژندنه کې د خلکو چلند، کړه وړه، د ژوند بڼه، دودونه، مراسم او نور په پام کې نیسـو، البیروني هـم دا کار کړی دی. دی فرهنګ هر مهال د څېړنـې وړ بولي، خو د خلکو د فرهنګ په سترګه ورته ګوري، د ولس پېژندنې لپاره د هغوی د فرهنګ پېژندنه اغېزناکه لار ګڼي.
د ده نظر دا دی چې عالمان باید د علم تر څنګ خپل اصلي او اسلامي فرهنګ ته هم کار وکړي، وده ورکړي، حاکمانو او حکومتونو ته په دې باب مشورې وکړي، ځکه چې په دې توګه د خلکو خلاقو، سـلوک کره او معاشره سمبېږي او د اسلامي فرهنګ او تمدني څېرې په راتګ سره نسلونه خپل مسیر په ښه ډول ټاکلی او پر مختللی شي.

### پایله:

البیروني یوازې یو شـخص نه، بلکې یـو جامع الكمالات شخصیت او د اسلامي نړۍ ژوندی فکر دی چې هم په خپله زمانه کې د یوه اغېزناک شخص او پر علم مین عالم په توګه مطرح و او هم یې په اوسنۍ زمانه کې اثار او بېلابېل تالفات د استفادې وړ او د استناد وړ دي. دی د غربي ساینس پوهانو او عالمانو په څېر یوازې تیوري تولیدونکی نه، بلکې د خپلې تیورۍ عملي کوونکی هم دی چې دا د حقیقي عالم ځانګړنه ده، د د اسـلامي فهم او فکر پر برکت وکولی شو چې د قران کریم او اسـلامي نصوصو ساینسي او ټولنیز اعجاز په اثبات ورسوي او دیني په طبیعي او عصري اړخ کې تطبیق کړي. دا په زموږ یعنې خپله مسلمانانو کمزوري او بې غوري وي، چې د خپل تاریخ یو داسـې اتل بلکې اتلان هېروو او ځان د هغه پردي پالنې یا بېګانه پرستۍ توپان ته غورځوو، چې نن ورځ بې ځایه ځان د غربي ساینس پوهانو او مرکزونو احسانمن راته ښکاري. دا چې اسلامي امارت په ځانګړي ډول اطلاعاتو او کلتور وزارت د نومړي د یاد او افکارو نمانځنه اړینه بللې، دا خپله ثابتوي چې د «زرو قدر په ذرګر وي» هیله ده چې د هغه نایاب اثار په پښـتو او دري ژبو چاپ او د عامه لاسرسي وړ وګرځي، څو افغان ځوانان وکولی شي چې د اسلامي فرهنګ او فکر په وده کې د خپلو علمي شخصیتونو له یو عمر کړاوونو څخه په ښه ډول خبر شي او عمل وړباندې وکړي.

# د ساینس پرمختګ کې د مسلمانانو رول

پروفیسور ارشد جاوېد - ژباړه: انوارالحق عاصم

اوس وخت د نوبل جایزې ګټونکو ساینسـپوهانو په کتار کې د مسـلمانانو نوم په نشت حساب دی چې له امله یې مسـلمانان او په ځانګړې ډول نوی قشر د سخت احسـاس کمترۍ سره مخ دی، په اصل کې مسـلمانان له دې ناخبره دي چې نړۍ له ساینس او ساینسي فکر سره مسلمانانو اشنا کړه.
رابـرټ بریفالـټ (Rpbert Briffault) پـه خپـل مشـهور کتاب «د انسانیت جوړښـت (Making of Humanity) کې لیکي:
((زموږ سـاینس د عربانو د احسـان پوروړی په دې نه دی چې دوی حیرانوونکـي اختراعات یا انقلابي نظریـې وړاندې کـړې بلکې له دې ډېـر د عربانو د احسانونو پوروړی دی یعنې د دې (ساینس) وجود هم د دوی پر مټ راغی. ))کوم څه ته چې موږ سـاینس وایو هغه په اروپا کې د څېړنو نوي روح رابرسېره کولو لپاره نوی فکري انداز، تجربه، مشاهده او اندازه لګولو نوې تګلاره او ریاضي د تکمیل درجې ته رسـولو او هغه اصولو اختیارولو نه راپیدا شو،چې یونانیان ترې بېخي بې خـبره وو، له دې روح او ددې تګلارو سره اروپا عربانو اشنا کړه.
جارج سـارټن خپل ارزښتمن کتاب (Introduction to the History of Science) کې لیکي: له مسلمانانو نه مخکې د یونان ساینس هسـې ګډوله وه چې ښه او خوشـې دواړه په کې وو، دا مسلمانان وو چې له کثافاتو نه یې ساینس پاک کړ، مسلمانانو په ریاضي، فلکیات، کیمیا، فزیک، صنعت او حرفه، جغرافیه او طب برخه کې د پـام وړ اختراعات وکړل... تر درې نیم سوه کلونو پورې مسلمانانو په ساینس کې د نړۍ رهبري کړې ده، چې په دې رهبرۍ کې یې بل ساری نه درلود، د سـاینسي علومو زده کـړې لپاره اړینه وه چـې د دوی ژبې زده شي، عیسـویانو او یهودیانو به عربي لوستله، اروپا د مسلمانانو علوم په دوولسمه او دیارلسمه پېړۍ کې خپلو ژبو ته انتقال کړل چې د دې پر مټ دوی د دې جوګه شول چې د ساینسپوهانو په کتار کې ودرېږي.
«جورج سارټن» په خپل دې کتاب کې د څوارلسمې عیسـوي پېړۍ تر پایه د ټولې نـړۍ علومو او فنونو یادونه کړې ده، په دې کتاب کې یې د اسلام او د نورو ادیانو مهمو شـخصیتونو یادونه هم کړې ده، سارټن هره پېړۍ په دوه برخو ویشلې او هره نیمه پېړۍ یې د هغه وخت مهم شخصیت په نامه نومولې ، چې په دې ترڅ کې اووه نیمایي پېړۍ مسلمانو پوهانو ته منسوب دي چـې بل څوک یې ورسره نـه دي ملګري کړي، وروستۍ شپږ نیمایي پېړۍ یې درې، درې پوهانو ته منسـوب کړي چې په کې یو مسلمان، یو عیسوي او یو یهودي دی، لومړنیو اووه نیمایي پېړیو کې د نړۍ په کچه د ساینس او پرمختللو علومو یواځینۍ ژبه عربي وه، له دې دا هم په ډاګه شـوه چې د یوولسمې پېړۍ تر پایه پورې د سارټن د وینا په اساس هیڅ غیر مسلم د دې ځانګړتیـا جوګه نه و یعنې د ټولې نړۍ په کچه د علم په ډګر کې هېڅوک د مسـلمان پر وړاندې نه شو درېدلی.
البته جورج سـارټن یو لوري ته وایي چې عیسویانو او یهودیانو په دوولسـمې، دیارلسمې او څوارلسمې پېړیو کې د مسـلمانانو علوم خپلو ژبو ته وژباړل او د دې جوګه شـول چې د ساینسـپوهانو په کتار کې ودرېږي، بل لوري ته یې په دوولسـمې، دیارلسمې او څوارلسـمې پېړیو کې عیسـوي او یهودي پوهان د مسـلمانانو سره اوږه پـه اوږه درولي او حقیقت دا دی چې تر څوارلسـمې پېړۍ هیڅ غیرمسلم عالم د مسلمانانو سره برابر نه و.
نږدې اووه سـوه کلونه اسـلامي نړۍ د علم او فن، سـاینس او ټیکنالوژۍ مرکز پاتې شوې، هېڅ اختراع او نوښت داسې نه و،چې په سر کې یې له مسلمانانو پرته نور څوک وي او د دې نړۍ هر عالم او ساینسپوه به د ادب پـه خاطر د دوی پر وړانـدې لاس په نامه درېدل.
د سـاینس پیل له یونانه وشـو البته د دوی سـاینس تیوري شـکل(نظري) و او له مسلمانانو نه څو پېړۍ وړاندې یې سـاه ورکړې وه، مسـلمانانو د ساینس بنسـټ په څېړنو، مشاهداتو او تجربو باندې کېښود، د «بریفالټ» په څېر غـربي مفکر او او تاریخپوه هم منلې ده،چې تجربوي تګلاره د راجربیکن نوښت نهٔ بلکې له نومړي څو پېړۍ د مخه عربانو د تجربوي تګلارې ایجاد کړې دي.
مشهور مؤلف او تاریخپوه(Max Myerof) لیکي: د یونان د ډوبېدونکي لمر(علم) رڼا د اسـلامي ساینس سـپوږمۍ وځلوله او د اروپا د منځنۍ پېړیو د تورتم ډکه شـپه یې روښانه کړه، د اروپا د دویم ځل بیدارۍ لمر راختلو سره دا سپوږمۍ پیکه شوه.
د بریفالـټ د وینا په اسـاس«عربانو پـه پراخه کچه سـاینسي تجربې وکړې، دوی د مشاهداتو او تجربو لپاره په ډېر دقّت سره آلات جوړ کړل،چې د یونانیانو له آلاتو خورا ډېر غوره، سم او اغېزناک وو.
د لوېدیځ نوي ساینسـپوهان پـه دې نظر دي چې د نړۍ په ملتونو کې د مسـلمانان لومړنی ملت دی چې د کائناتو مطالعې او مشاهدې ته یې خورا ډېر اهمیت ورکړی او د خپلو ټولو ساینسي نظریاتو بنسټ یې پر همدې دوه عواملو راڅرخولی، د نړۍ په نورو ملتونو چې مسـلمانان کوم امتیاز لري د هغې اساسي لامل «قران کریم» دی چـې د کائناتو خالق په کې دوی ته په کائناتو او د هغې پـه نظارو کې د غور او فکر بلنه وار په وار ورکړې ده، د قران کریم له اووه سـوه زیاتو ایاتونو کې په کائناتو کې د څېړنو موضوع باندې زور ورکړی دی.
بل لورې ته اروپا کې چې تر کومه د کلیسـا واکمني وه هلته د بربریـت او ناپوهۍ دوره وه، هغوی په دې نظر وو،چې کوم څه په انجیل کې نه شته یا له انجیل نه د باندې دي هغه باطل او ناسم دي له دې امله باید وسوځول شي، کلیسـا په علمي او ساینسي نظریاتو باندې بندیز لګولی و، نو اروپایانو له دین نه تر اوښتلو وروسـته د علم زده کړې او ساینسي فکر غوره کولو کـې ازادي ومونده، له دې املـه اوس دوی انګېرې چې مسـلمانان هم له اسلام نه په اوښتلو سره په علم او حکمت کې ویاړونه ګټلی شي،خو حقیقت دادی چې مسلمانانو د سـاینس او علم په ډګر کې کومې سـتري لاسته راوړنې کړې،د اسـلام نه په اوښتلو نه بلکې د الله او د هغه د رسـول په احکامو عمل کولو سره کـړې او اوس بدبختانه د اسـلامي اصولو نه په اوښـتلو سره د ژند په هر ډګر کې د ذلت او سپکاوي سره مخ یو. **نور بیا...**

## افغان کډوال د پاکستان ...

دې مالومات راټول او اسلام اباد ته دې واستوي.
د پنجاب او سند ایالتي حکومتو ان په روژه کې ویلي و چې دوی به له کوچني اختر وروسته د افغانانو د ایستنې چاره کوي.
د خیبرپښتونخوا ایالتي حکومت ویاند ویلي چې دوی تر اوس هېڅ لاسوند نه موندلی چې په چاودنو او نورو وسله والو پېښو کې د افغانانو لاس لرل ترې ثابت شي. نوموړي ویلي چې د افغان سیټېزن د ۳۶۰ زرو کډوالو مالومات یې مرکز ته لېږلي، خو دوی ته یې د بېرته ستونې په اړه څه دي ویلي، خو که مرکزي حکومت ترې وغواړي نو دوی به اړ وي چې افغانان له دغه ایالته وباسي.

د پاکستان پخواني لومړي وزیر او د اډیاله زندان زنداني عمران خان لا پخوا د افغان کډوالو د جبري ایستنې مخالف و. خان ویلي و چې افغانان دې په زور نه ستنېږي. د پاکستان د تحریک انصاف بنسټګر عمران خان په خبره اوس هم ولاړ دی او وايي چې په زور دې د کډوالو له ایستلو ډډه وشي.
د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت یو ځل بیا له دغه هېواده د بې اسنادو افغان کډوالو د ایستلو پر پرېکړې ټینګار کړی. د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاندې زهرا بلوڅ په اسلام اباد کې د خبري غونډې پر مهال وویل چې دوی په هېڅ ډول بهرنیو ناقانونه اتباعو ته په خپل هېواد کې ځای نه شي ورکولی.

بل خوا، د بښني نړیواله اداره وايي چې پاکستان باید د افغان کډوالو د ایستلو په اړه د نړیوالو غوښتنې له پامه ونه غورځوي او نه هم افغان کډوال په زور افغانستان ته ستانه کړي.
بل پلو، اسلامي امارت د افغان کډوالو راستنېدنې ته بشپړ چمتووالی اعلان کړی دی. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ویاند وايي چې یوازې په تېر ۱۴۰۲ کال کې افغانستان ته ۱.۷ میلیونه افغانان راغلي چې ۷۰۰ زره یې له پاکستان او یو میلیون له ایران څخه وو.
د کډوالو چارو د وزارت ویاند وايي، له ګاونډیو هېوادونو سره وخت په وخت غونډې شوي، دغه شان ددې وزارت استازي ترکیې او ایران ته تللي، خو هلته له نورې د افغان کډوالو له ژوند و ژواکه خبر شي.

**خالد افغان**

## افغانستان د کاغذ له پلوه...

د کارخونې مسوولین وايي چې که د برېښنا ستونزه یې حل شي، په تولیداتو کې به یې لوړوالی راشي. دا په داسې حال کې ده چې ورمږ کال افغانستان د لومړي ځل لپاره په لوړه کچه سپینې پاڼې د منځنۍ اسیا ځینو هېوادونو ته صادر کړې وو.

## امارت اسلامی با قربانیان...

بارش باران‌های اخیر در پاکستان علاوه از سرازیر شدن سیلاب در این کشور، ده‌ها تن کشته شده‌اند. در شهر کویته ایالت پنجاب پاکستان وضعیت فوق‌العاده اعلام شده است.

## د پانګونې په پار...

ډول د زر وینځنې په برخه کې یې د پانګونې غوښتنه کړې.
بلخوا د کانونو او پټرولیم وزیر په دې کتنه کې ویلي، افغانستان د پانګوالو لپاره یو مناسب ځای دی او یاد وزارت په دې برخه کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره کړې ده.

## برای ۱.۷ میلیون مهاجر ...

و ما را مجبور ساختند که بروید مهاجر هستین، از زمانی که آمده ام هیچ کارم نمی شود و تنها ۳ گوسفند برای ما کمک شده؛ آرد، روغن و بوره خود را قرض میگیرم.»
او از مسوولین امور خواهان کمک مواد غذایی و غیر غذای و فراهم آوری تسهیلات کار برای مهاجرین است.
فیصل نیز روایتی از اخراج اجباری اش از ایران دارد او نیز در خانه کرایی زندگی می نمایند و می گوید:» مدت دو سال در ایران بودم و ۷ ماه می شود که اخراج شده ام و همین حالا ما را از خانه جواب دادند، ۵ هزار افغانی کرایه میدادیم و صاحب خانه گفته که ۷ هزار بدهید، دنبال خانه میگردم هیچ نیست، مشکلات بیکاری است و پدرم جواری فروشی می کند و من در ایستگاه موتر ها کار می کنم، نبود خانه و جای از مشکلات ما است که باید از سوی مسولین به آن رسیدگی شود.»وزیر آغا همچنان حکایتی مشابهی دارد و گفت:» ۲۵ سال در مناطق مختلف پاکستان مهاجرت کردیم و کار و کاسبی آزاد میکردم و سال گذشته داوطلبانه به کشور خود آمدیم و در خانه کرایی که ۵ هزار کرایه دارد زندگی می نمائیم و هیچ نوع کمک همرای ما نشده است.»وی از دولت و مسوولین می خواهد که افزون بر توزیع مواد غذایی و غیر غذایی برای مهاجرین در خصوص توزیع خانه و زمین نیز توجه نمایند.فیض محمد از بیجاشدگان داخلی در کشور است که در کمپ چهاراهی قمبر زندگی می نماید وی بیان داشت:» مدت ۱۹ سال می شود که در این کمپ هستیم، مشکلات بسیار زیاد است، دیوار ها چپه شده، آب در کوچه های ما ایستاده و خانه ها به کلی تخریب شده، اما مسوولین تا هنوز توجه نکرده اند. به گفته او زمین، جای و منطقه ندارند و افزود که در این کمپ ۱۱ صد خانواده زنده گی می نمایند.»موصوف از مسوولین جهت رسیدگی به مشکلات شان خواستار توزیع هرچه زودتر سرپناه شد.
با این حال عبدالمطلب حقانی رئیس اطلاعات و ارتباط عامه و سخنگوی وزارت امور مهاجرین گفت:» طبعی است که مهاجرین نسبت به کشور خود، در کشور های دیگر در بخش های مختلف با انواع مشکلات مانند تعلیم، صحت، بود و باش، کار و روزگار و بعضی اوقات با واکنش جامعه ها رو برو می شوند و حتی به انسان های درجه سوم بطرف شان می نگرند، وزارت امور مهاجرین همواره تلاش کرده که در کشور های میزبان هم به مشکلات مهاجرین رسیدگی صورت گیرد.»
وی اذعان داشت:» در سال ۱۴۰۲ – ۱.۷ میلیون افغان به کشور عودت نموده اند که تمام شان در دروازه های سرحدی و دروازه های فرضی ثبت و راجستر شده و پس از توزیع مواد غذایی و غیر غذایی برای آنان، به محلات شان انتقال داده شده و بریاست های مهاجرین معرفی میشود تا با کمک موسسات همکار وقت به وقت مساعدت شوند.»آقای حقانی علاوه نمود:»مشکلات مهاجرین در کشور های میزبان وجود دارد که ما بخاطر حل آن با دیپلومات ها و سفرای آنان نشست های داشته ایم که نشست چند روز قبل ما با معاون سفیر پاکستان و سفیر ایران مصداق آن است و همچنین در داخل آن کشور ها نیز با مسوولین مربوطه نشست هایی صورت گرفته و مشکلات مهاجرین در آن شریک شد که تا حد زیاد به مشکلات شان رسیدگی شده است.»
او می افزاید:» افغانهایی که به کشور می آیند، در محلات سرحدی کمپ های موقت ساخته شده تا یک وقت معین در آن مسکن گزین می شوند و زمانی که پروسه ثبت و راجستر آنان به اتمام برسد، حقوق و کمک هایی در نظر گرفته شده را که بدست آوردند، پس از آن به محلات شان انتقال داده می شوند.»نامبرده اشاره نمود:» ۱.۷ میلیون افغان که به کشور آمده اند، در این میان تقریبا در حدود ۱ میلیون از ایران و ۷ صد هزار آن از پاکستان آمده اند که البته خانواده هایی که داوطلبانه به کشور عودت نموده اند، نیز شامل آن هستند.»سخنگوی وزارت امور مهاجرین می گوید:» با کشور های همسایه وقت به وقت نشست هایی صورت گرفته است، به ایران و ترکیه نماینده های وزارت امور مهاجرین هم رفتند، در آنجا نشست هایی جهت حل مشکلات مهاجرین نیز صورت گرفت. وی افزود که در این اواخر به گونه اجباری مهاجرین اخراج شده اند که با آنان زیاد کمک ها را، خود افغانها از جمله تجاران افغانستان، صنعت کاران و همچنان افغانهای عام سهم فعال گرفتند، حتی بیشتر افغانها منازل شان را در اختیار آنان قرارداده ، در خانه های شان جا داده و بسیار کمک های قابل توجهی را انجام داده اند.»او گفت:» موسسات بین المللی هم کمک هایی را انجام داده اند، البته آنان بودجه یی را که مصرف کرده، در خارج تاثیر چندان قابل ملاحظه یی نداشته و به اندازه مصرف خودشان، برای افغانها بسیار زیاد کم کمک شده است، در صورتی که کمک ها بسیار زیاد است، وی از آنان خواست که آن بخش که با افغانها کمک می شود، باید در این راه به شکل درست مدیریت شود تا مشکلات مهاجرین به گونه ی تهدابی حل گردد.»
موصوف تصریح کرد:» مهاجرینی که به کشور آمده اند، دو مشکل اساسی دارند، یکی نبود سرپناه و دیگر فراهم ساختن کار و روزگار که در این راستا امارت اسلامی بخصوص وزارت امور مهاجرین برنامه هایی را روی دست دارد و بخاطر آنان در آینده نزدیک جهت اعمار سرپناه زمین توزیع خواهد شد و بخاطر کار و روزگار تقریبا ۳۵ هزار افغان ثبت و راجستر شده اند ک تحصیلات عالی و حرفوی خویش را در ایران و پاکستان انجام داده اند که تا حد توان برای شان کمک خواهد شد.»حقانی همچنان بیان داشت:» هنوز هم بیجا شدگان داخلی در کشور هستند، آنهایی که در جنگ های گذشته، نا امنی ها، بمبارد ها و چاپه های کور کورانه در داخل کشور بیجا شده اند، با وجود اینکه تعداد زیاد آنها انتقال داده شده اند اما یک بخش آن هنوز هم مانده و در این اواخر به اثر حوادث طبیعی و غیر طبیعی افغانهای زیاد بیجا شده اند و تقریبا در حدود ۳ میلیون بیجا شدگان داخلی بنابر دلایلی در افغانستان موجود است.»او افزود:» اکنون هم مهاجرین هر روز تقریبا ۳۰ الی ۴۰ خانواده به کشور خود می آیند، البته در روز های اول که موج سریع آمدن مهاجرین بود، در تناسب با آن بسیار کم شده و یک نرمش کلی بوجود آمده است که تعدادی به خوشی و تعدادی به گونه اجباری می آیند. وی خطاب به مهاجرین گفت:» به خوشی به کشور خود باز گردین، هجرت بخاطر آزادی کشور و اقامت نظام اسلامی بود که آن هدف اکنون بدست آمده است، پس لازم است که با خوشی و با سرمایه خویش به کشور آمده و در آبادی وطن سهم بارز بگیرید.`` و از بنیاد های خیریه و موسسات نیز خواست تا مهاجرین را دستگیری، حمایت و هرنوع کمک را با آنان انجام دهند و جوانان را مخاطب قرار داده و تاکید ورزید تا دیگر از راه های قاچاق به کشور های دیگر نروند.
این در حالی است که کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان ( یو ان اچ سی آر) در گزارش اخیر خود، آمار مهاجرین افغان را در سال ۲۰۲۳ به ۸.۲ میلیون تن در ۱۰۳ کشور نشان داده است.همچنان دفتر هماهنگ کننده کمک های بشر دوستانه سازمان ملل (اوچا) تازه ترین گزارشی از برنامه ریزی های آژانس های کمک رسان برای افغانستان در سال ۲۰۲۴ منتشر کرده و در آن خاطر نشان ساخته که افغانستان در سال ۲۰۲۴ با سیل مهاجران بازگشته رو برو خواهد بود و در گزارش اش پیش بین شده که در سال ۲۰۲۴، حدود یک میلیون و ۴۶۰ هزار مهاجر از ایران و پاکستان به افغانستان باز خواهد گشت که از این میان حدود ۴۸۳ هزار تن از پاکستان و ۹۷۸ هزار مهاجر هم از ایران باز می گردند، البته این بازگشت ها بیشتر اجباری اند، چون هر دو کشور اعلام کرده اند که مهاجران افغان فاقد اجازه اقامت را از کشور هایشان اخراج می کنند.قابل یاد آوریست که مرحله دوم اخراج اجباری مهاجرین افغان یوم دوشنبه ۲۷ حمل از سوی کشور پاکستان آغاز شده و دفتر هماهنگ کننده کمک های بشردوستانه سازمان ملل گفته که برای رسیده گی به نیازمندان در افغانستان در سال ۲۰۲۴ به سه میلیارد دالر بودجه نیاز دارد.

**قیس قادری**

# افغـان اعـلانات


### اعلان دعوت به داوطلبی

موضوع : پروژه تهیه و تدارک (۸۲)قلم قرطاسیه باب مطبوع و غیر مطبوع مورد ضرورت شعبات مرکز وزارت تحصیلات عالی بابت سال مالی ۱۴۰۳
شماره دعوت به داوطلبی
MOHE/1403/NCB/G-02
وزارت تحصیلات عالی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه و تدارک (۸۲)قلم قرطاسیه باب مطبوع و غیر مطبوع مورد ضرورت شعبات مرکز وزارت تحصیلات عالی بابت سال مالی ۱۴۰۳ اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را به طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از ریاست تدارکات، وزارت تحصیلات عالی بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت {۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز دوشنبه} تاریخ {۱۴۰۳/۰۲/۲۴} به ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار ناحیه سوم کابل افغانستان ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.
تضمین آفر به شکل بانک گرنتی: مبلغ (۲۷۰،۰۰۰) افغانی
جلسه آفرگشایی به روز {دوشنبه} تاریخ {۱۴۰۳/۰۲/۲۴} ساعت {۱۰:۰۰ قبل از ظهر} در {صالون آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت تحصیلات عالی واقع کارته چهار، ناحیه سوم، کابل افغانستان} تدویر می گردد.
شماره تماس: ۰۲۰۲۵۱۴۱۸۲ – آدرس الکترونیکی: taherahsas29@gmail.com

+++++

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۱ و ۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود, اینکه وزارت ترانسپورت و هوانوردی در نظر دارد که قرارداد پروژه اعمار منزل چهارم تعمیر اداری ریاست عمومی میادین هوایی دارای نمبر تشخیصیه MOTA/1402/NCB/W-45 را به شرکت ساختمانی آریانا جوهرکه دارنده شماره جواز (D۲۳۳۲۳۳) و آدرس آن شیرپور خانه نمبر ۵ ، مرکز کابل، افغانستان میباشد به قیمت مجموعی مبلغ (۲،۸۹۹،۹۹۰ دو میلیون هشصدو نود نو هزار و نود افغانی اعطا نماید اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست محترم تدارکات وزارت ترانسپورت و هوانوردی وفق احکام ماده پنجاه هم قانون تدارکات ارائیه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده والی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی, قرارداد منعقد نخواهد شد ۴۷۰

+++++

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعه وثیقه حصر وراثت خط شرعی دارای نمبر ۱۱۴/۱۹۱ مورخ ۱۳۹۴/۷/۱ مرتبه محکمه حوزه اول دیوان مدنی به اسم مرضیه بنت نیاز محمد ولدیت فیض محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۴۱۰

+++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۴۸۶۸۲-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای جهید فرزند معارف بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه باعراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.
۴۴۹

+++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۳۹۶۶۵-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش رابعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای ارین فرزند عبدالصبور بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه باعراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۴۸

++++++

### اطلاعیه تقرری

قرار است محترم محمد یوسف فرزند محمد زمان دارنده تذکره شماره (۵۰۶۴۸) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسلویت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت. ۴۵۲

+++++++

### اطلاعیه مفقودی

به تعداد سه جلد جواز سیر موتر که قرار شرح ذیل می باشد:
۱-موتر کرولا به رنگ آبی دارای نمبر پلیت ۹۹۵۱۱
۲-موتر نیسان وانت جاپانی به رنگ سفید دارای نمبر پلیت ۵۱۴۱۳-ل
۳-موتر مرسیدیز به رنگ سفید دارای نمبر پلیت ۲۵۲۷۳-ب
مربوط بانک اسلامی افغانستان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۴۳۴

++++

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۱ و ۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود, اینکه وزارت ترانسپورت و هوانوردی در نظر دارد که قرارداد پروژه اعمار دیوار احاطه، دروازه عمومی مربوط ملکیت هواشناسی در ولسوالی سروبی دارای نمبر تشخیصیه MOTA/1402/NCB/W-47 را به شرکت ساختمانی رونکس ستار که دارنده شماره جواز (۹۰۸۸٤) و آدرس آن دیوان بیگی پهلوی مسجد وردگ بابا، ناحیه ۵ مرکز کابل، افغانستان میباشد به قیمت مجموعی مبلغ (۲،۰۵۷،٦۷۲ دو میلیون و پنجاه و هفت هزار شش صدو هفتاد و دو افغانی اعطا نماید اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی مدت هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست محترم تدارکات وزارت ترانسپورت و هوانوردی وفق احکام ماده پنجاه هم قانون تدارکات ارائیه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی, قرارداد منعقد نخواهد شد.

+++++

### دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژهء) تهیه و تدارک ۲۰۰،۰۰۰ عدد سیم سرغچ مورد ضرورت ریاست عمومی گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه MOF/1403/NCB/G-010 که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۲/ ثور/۱۴۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲۳/ ثور /۱۴۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر : به مبلغ ۱۰۰،۰۰۰ (یک صد هزار) افغانی میباشد
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان - ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦
Yahoo Mail: Search, organise, conquer

+++++

### اعلان داوطلبی دو جایداد دولتی مربوط ناحیه اول شاروالی کابل!

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دوباب غرفه ذیل را از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان می سپارد.
۱. یکباب غرفه نمبر ۲۷ بمساحت ۴٫۲ مترمربع واقع منزل اول تعمیر ۱۴ منزله سینما پامیر به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۲۰۰۰۰ ) افغانی.
۲. یکباب غرفه نمبر ۵ بمساحت ۱۱٫۲ مترمربع واقع منزل اول تعمیر ۱۴ منزله به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۵۰۰۰ ) افغانی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ۶۹٫۱۷۲۱۹-۳۴٫۵۱۳۴۲
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ ۰۱ / ثور/ ۱۴۰۳ الی ۷/ ثور/۱۴۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱۴ منزله، منزل ۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز
شماره تماس (۰۲۰۲۹۲۴۶۰۷-۰۲۰۲۹۲۴۶۲۴)
مجلس داوطلبی: ۸ ثور ۱۴۰۳ ساعت (۱:۳۰) بعد از ظهر برگزار میگردد.
Yahoo Mail: Search, organise, conquer

+++++

### د کابل په منډیي کي د مدینه مارکېټ اړوند (۱۱) بابه دوکانونو د داوطلبی خبرتیا!

د مالیې وزارت اړوند د دولتي املاکو لوی ریاست د کابل منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند (۱۱) بابه دوکانونه په جلاجلا ډول د داوطلبی له لارې اعلان ته وړاندې کوي.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۱ نمبر دوکان چي ۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۲۹۰۷) افغانۍ ده.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۲ نمبر دوکان چي ۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۲۹۰۷) افغانۍ ده.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۳ نمبر دوکان چي ۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۳۲۸۶.۷) افغانۍ ده.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۴ نمبر دوکان چي ۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۳۲۸۶.۷) افغانۍ ده.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۵ نمبر دوکان چي ۸.۲۸ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۲۲۲۴.۱) افغانۍ ده.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۶ نمبر دوکان چي ۱۸.۸۱ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۲۹۶۷۹.۹۷) افغانۍ ده.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۷ نمبر دوکان چي ۸.۵۱ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۳۴۲۷.۸۹) افغانۍ ده.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۸ نمبر دوکان چي ۹.۲۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۳۶۵۶.۳) افغانۍ ده.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۹ م نمبر دوکان چي ۹.۲۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۳۶۵۶.۳) افغانۍ ده.
. د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۲۰ نمبر دوکان چي ۱۱.۶۶ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۸۸۵۲.۷۵) افغانۍ ده.
۱۱ د منډیي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۲۱ نمبر دوکان چي ۱۱.۶۶ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۸۸۵۲.۷۵) افغانۍ ده.
کوردینات (جي. پي. اس نمبر): ۶۹٫۱۷۷۲۴-۳۴٫۵۱۷۴۱
هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورتني ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د (ثور/۰۱ /۱۴۰۳) څخه وروسته تر (ثور/۲۱/۱۴۰۳) پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبۍ مجلس: د (ثور/۲۲/ ۱۴۰۳) نېټه، د سهار ۹:۳۰ بجي ترسره کېږي.
داړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۶۰۷-۰۲۰۲۹۲۴۶۲۴

# Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د ليکوال هيئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدير: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شريعت برېښنا ليک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶ /۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Saturday 20 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 431




**د خيبر پښتونخوا چارواکي:**

## افغان کډوال د پاکستان په ناامنه کولو کې هېڅ لاس نه لري

**شريعت:** د خيبر پښتونخوا ايالتي حکومت وايي چې دوی هېڅ داسې نښه نښانه په لاس کې نه لري چې وښيي، افغان کډوال د پاکستان په ناامنه کولو کې لاس ولري.
د خيبر پښتونخوا ايالت ځايي چارواکي دغه خبره په داسې حال کې کوي چې د پاکستان مرکزي حکومت د افغان کډوالو د جبري ايستنې دويم پړاو پيل کړی دی. ايالتي حکومت زياتوي چې دوی داسې کوم سند او مدرک نه دی موندلی چې افغانان دې د ناامنۍ په کومه پېښه کې تورن شوي وي.
د پاکستان فدرالي اداري اعلان وکړ چې د روان ۲۰۲۴ کال د اپريل له ۱۵ مې وروسته به په خپل هېواد کې افغان کډوال نه پرېږدي. ويل کيږي چې دا ځل ټول هغه افغانان شړل کيږي چې د (افغان سيټېزن) کارتونه په لاس کې ولري. تر دې دمخه د پاکستان مرکزي حکومت له ايالتي حکومتونو غوښتي و چې د افغان کډوالو په اړه ۳مخ

## برگزاری مجلس داوطلبی زرشویی ساحه طلا دار ولسوالی امام صاحب

مجلس داوطلبی زرشویی ساحه طلا دار ولسوالی امام صاحب ولایت کندز با حضور داشت شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم، برگزارشد.
دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم خبرنامه یی گفته است: در آغاز مجلس شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور در رابطه به سهولت های ایجاد شده در بخش های سرمایه گذاری روی منابع معدنی کشور صحبت نموده، اطمینان داد که روند داوطلبی شفاف خواهد بود.
در این دواطلبی از میان اشتراک کننده‌گان فقیر محمد با قبولی نرخ رویالیتی یک‌ساله ۸۰۵۰۰۰ هشت‌صد و پنج هزار دالر امریکایی طوراجاره برنده داوطلبی زرشویی ساحه طلا دار ولسوالی امام صاحب کندز اعلام شد.

**والی پنجشیر:**

## سیاحین سفیران صلح اند



مقام‌های محلی ریاست اطلاعات و فرهنگ ولایت پنجشیر می‌گویند، یک گروه هفت نفره گردشگران روسی از بخش‌های مختلف این ولایت، دیدن کرده‌اند . ص۲

## لیلام ۱۶ میلیون دالر آمریکایی توسط بانک



د افغانستان بانک الی مبلغ ۱۶ میلیون دالر آمریکایی را امروز به طور لیلام به فروش می‌رساند.
این بانک با نشر خبرنامه‌ی نوشته است که د افغانستان بانک، الی مبلغ ۱۶ میلیون دالر آمریکایی را طی داوطلبی به طور لیلام به فروش می‌رساند.
این بانک، خواستار ص۲

## اوچا: وروستيو اورښتونو د افغانستان يو نيم زر کورنۍ زيانمنې کړي



ملګرو ملتونو د همغږۍ دفتر يا اوچا وايي، چې په افغانستان کې وروستيو اورښتونو او سېلابونو شاوخوا يو نيم کورنۍ زيانمنې کړي دي. د اوچا په تازه خپور شوي راپور کې راغلي، چې دغو ورښتونو ۱۵۹۰ کورنۍ اغېزمنې، ۳۵ تنه مړه او ۴۷ تنه ټپيان کړي دي.
همدارنګه په دغه راپور کې راغلي، چې دغو اورښتونو ۹۳۰ کورونه زيانمن کړي، ۴۶ کورنۍ بې ځايه شوي او ۴۷۰ څاروي په کې تلف شوي دي. د اوچا د راپور له مخې، دېرې سېلابونه دافغانستان په مرکزي، مرکزي لوړو، شمالي، شمال ختيځو، سويلي او لويديځو سيمو کې راوتلي دي. راپور کې راغلي، چې دغو سېلابونو شاوخوا ۶۳۷۰۰ جريبه کرنيزه ځمکه هم ويجاړه کړې ده. اوچا ويلي، چې په راتلونکې اوونۍ کې د افغانستان په مرکزي، سويل، سويل ختيځ او سويل لويديځو سيمو کې دورښت دنوې څپې تمه هم کيږي. اوچا د راتلونکو اورښتونو په اړه وايي، دغه ورښتونه د اندېښنې وړ دي ځکه چې د اوبو زېرمې ډکې شوې؛ نو د سېلابونو د راوتو اټکل هم کيږي.

## رقابت‌های قهرمانی آسیا؛ تیم سه نفره فدراسیون جودو رهسپار چین شد

کمیته‌ملی‌المپیک‌کشوراعلام‌کرده‌که تیم‌سه‌نفره‌فدراسیون «جودو» رهسپار کشور چین شده است.این کمیته با نشر خبرنامه‌ای گفته که اعضای تیم سه نفره فدراسیون جودو عازم شهر «هانگ‌کانگ» کشور چین شده‌است.
هدف از سفر تیم سه نفره، اشتراک در رقابت‌های جودو در کشور چین گفته شده است. این رقابت‌ها با حضور ۲۸۰ ورزشکار از ۳۶ کشور، برگزار می‌شود.دو ورزشکار و یک مربی، کاروان‌ورزشی افغانستان‌دررقابت‌های یادشده را تشکیل می‌دهد.سفر تیم ورزشکاران جودوی کشور به چین سه روزه‌خواهدبود.این‌سفر‌در حالی‌انجام می‌شود‌که‌سال‌پار ورزشکاران کشور با درخشش در میادین ورزشی افتخاراتی رانصیب‌افغانستان‌کردند.

## ترکي ډاکټران د افغان ماشومانو وړيا درملنه کوي

د عامې روغتيا وزارت وايي چې د ترکيې ډاکترانو يوه ډله افغانستان ته راغلې او دلته به ګڼ افغان ماشومان وړيا عمليات کړي.دغه وزارت ورمه ورځ ويلي، چې د ترکيې د ډاکترانو ډله به د افغان ډاکترانو په همکارۍ د کابل په اتاترک روغتون کې د ماشومانو د يورولوژۍ پېچلي او اختلاطي جراحي عمليات په وړيا توګه ترسره کړي. دا ډله به همداراز له افغان ډاکترانو سره د يورولوژۍ په برخه کې خپلې تجربې شريکې کړي. د عامې روغتيا وزارت د دغو روغتياپالانو هرکلی کړی او له ترکيې يې مننه کړې ده.د اتاترک د ماشومانو ملي روغتون په ۱۳۶۳ کې تاسيس شو چې ۲۰۰ بستره او ۲۵۳ کارکوونکي لري.ياد روغتون د ناروغانو لپاره د عمومي جراحۍ، عمومي داخلې، ، وړکتون، لابراتواري خدمتونه، راډيوګرافي، الټراساؤنډ او نورې طبي څانګې لري.

## افتتاح کارزار مجادله علیه ملخ در کندز



کارزار مجادله‌علیه‌ملخ از سوی مولوی صدراعظم عثمانی، معین زراعت و مالداری وزارت زراعت، آبیاری و مالداری باحضورداشت ریچارد ترانچارد، رئیس سازمان خوراک و زراعت ملل متحد در افغانستان در ولایت کندز افتتاح شد.دفتر مطبوعاتی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری بانشر این خبر نگاشته است: ص۲

## رویدادهای خارجی

**پر ایران بریدونه؛**

## تهران: پر موږ هېڅ برید نه دی کړی

شريعت: د راپورونو له مخې، پرون سهار وختي اسراييلو د ايران پر اصفهان او ځينو نورو ښارونو توغنديز بريدونه وکړل، خو د ايران رسمي خبري اژانسونه ياد بريدونه ردوي او وايي چې پر ايران کوم بهرني هېواد تېری نه دی کړی. ويډيو خپره کړې چې پکې د عادي حالت داده ورکړل شوی دی.
ايراني چارواکو هغه ادعاوې هم رد کړې چې ګوندي دغه هېواد دې په لوړه کچه امنيتي بېړنۍ غونډه راغوښتې وي.
اسراييل وايي چې د توغنديزو



بريدونو په تړاو يې واشنګټن خبر کړی و، خو بل خوا واشنګټن وايي چې له اسراييلو سره يې په دې بريد کې برخه نه ده اخيستې. اېن. بي. اېس. تلويزيوني چينل ته امريکايي چارواکو ويلي چې امريکا پر ايران د اسراييلو د بريد ملاتړ نه کوي او له دواړو لوريو د زغم غوښتنه کوي.
دغه بريد د ګڼو هيوادونو غبرګونونه راپارولي او د شخړو د زياتوالي مخالفت يې کړی دی.
د ايران او اسرائيلو ترمنځ وروسته له هغې ناندرۍ زياتې شوې، چې اسراييلو د ټولو نړيوالو قانونو خلاف دمشق کې د ايران پر کونسلګرۍ بريد وکړ او د سپاه پاسداران اووه لوړپوړي چارواکي يې پکې له منځه يوړل. کړی.سي ان ان امريکايي رسنۍ د امريکايي چارواکو له قوله خبر ورکړی، چې له دغو بريدونو څخه د اسرائيلو هدف د ايران اټومي او غيرنظامي تاسيسات نه دي. تهران ددغو بريدونو له کبله پرون سهار ځيني الوتنې هم لغوه کړې، خو غرمه مهال يې بېرته الوتنو ته اجازه ورکړه.
فارس خبري اژانس هم ويلي، چې د اصفهان په شمال غرب شکاري اردو پوځي اډه کې د دريو چاودنو غږونه اورېدل شوي دي. په هغه ويډيو کې چې په ټولنيزو شبکو کې لاس په لاس کېږي، اصفهان ته نږدې د څو چاودنې عکسونه ښکاره کوي. بل پلو، تسنيم خبري اژانس له پېښې ساعت وروسته د اصفهان ښار يوه

## پر چينايي اتباعو تر بريد وروسته؛ دا ځل جاپانيان په نښه شوي



پاکستاني رسنيو خبر ورکړی، چې د پاکستان د کراچۍ ښار په مانسهرې کې د پنځو جاپاني اتباعو پر موټر چاودنه شوې ده.د پاکستان د جيو نيوز تلويزيون دراپور پر اساس، په دغه بريد کې هېڅ جاپاني ته زيان نه دی اوښتی.
له بلې خوا، د پاکستان پوليسو دا پېښه تاييد کړې او ويلي يې دي چې په ځوابي بريدونو کې دوه وسله وال ويشتي.
دا په داسې حال کې ده چې روانه مياشت په خيبرپښتونخوا کې پر چينايي انجنيرانو خونړی بريد شوی و چې پنځه چينايان او ددوی موټروانان پکې وژل شوي وو. دغه چينايان دداسو برېښنا بند قراردادیان وو چې تر بريد وروسته يې د بند کارونه هم نيمګړي پرېښي.


**توجه !**
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!